
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۶مه | ۶۸۱ یمه گڼه


## خبره
۴ مخ



### ډاریو فو
ډاریو له تیاتر د خندا د ماشین په توگه استفاده کوي، خو موخه یې دا ده چې د هغه کرکه وپاروي او هغه پر خپلو ناسمو کړنو غوسه کړي. هغه له همدې کبله د نوبل جایزه هم گټلې.

# د اسلام کلا بوړنوونکې پېښه؛
## رحماني: مالیې وزارت مسوول دی، سوداگرو ته اووه سوه میلیونه ډالر زیان اوښتی


۳

دري لوی مالي زیانونه او د دولت سوړ چلند
۲ مخ

چرا مجلس نماینده‌گان بودجه سال ۱۴۰۰ هجری شمسی را مورد...
۲ مخ

د مصریانو د فبروري انقلاب؛ د اسلامي امت حال او د افغان وطن د خوړ جاج!
۳ مخ

**د چاپېریال ساتنې اداره:**
## راتلونکی کال به په ټول افغانستان کې ۲۵ میلیونه نیالگي وکرل شي



د چاپېریال ساتنې ملي اداره وایي، په راتلونکي لمریز کال به په ټول افغانستان کې ۲۵ میلیونه نیالگي وکرل شي. ملت ته د حکومتي ادارو او بنسټونو د حساب ورکونې په لړ کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او د کابل ښاروالۍ چارواکو تېره ورځ خپلې لاسته راوړنې او راتلونکي پلانونه له خبریالانو سره شریک کړل. د چاپېریال ساتنې ملي ادارې رییس شاه زمان میوندي په دې ناسته کې وویل چې یادې ادارې په روان لمریز کال کې ۹۶ سلنه خپله عادي بودیجه او ۹۷ سلنه پراختیایي بودیجه مصرف کړې. میوندي وویل، دوی د نورو دولتي ادارو په همکارۍ په راتلونکي کال کې د ۲۵ میلیونه نیالگیو ایښودلو پلان لري. هغه زیاتوي: «د ۲۵ میلیونه نیالگیو د کښت کولو پلان سره سم به د حوت په ۲۰مه د کرنې په ملي ورځ او په ټوله کې د کښت په ټول فصل کې په عمومي ډول په ټول هېواد کې د خلکو او عامه او خصوصي سکتورونو په همکارۍ ۲۵ میلیونه نیالگي وکرل شي.»

**د کډوالۍ نړیوال سازمان:**
## راتلونکی کال به ښایي ۱۷ میلیونه افغانان له قحطۍ سره مخ شي

د کډوالۍ نړیوال سازمان ویلي، په افغانستان کې د اورښتونو د کمښت او وچکالۍ له امله به په میلیونونو کسان له قحطۍ سره مخامخ شي.

یاد سازمان ویلي، چې د افغانستان کرنه پر بارانونو او د واورو د ویلېدو په اوبو پورې ډېره تړلې او د سږ کال بشري چارو ته د رسیدگۍ پلان اټکل کوي، چې تر ۱۷ میلیون پورې افغانان به د وچکالۍ او قحطۍ له امله متاثره شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش د تېر کال په وروستیو کې ویلي وو، چې په افغانستان کې ۷۰ سلنه خلک د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او شاوخوا ۱۳ میلیونه وگړي غذایي خوندیتوب نه لري.

بلخوا د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا تېره میاشت په یوه راپور کې وویل چې اوسمهال ۱۸ میلیونه او څلور لکه افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري، چې د تېر کال په پرتله دا شمېر دوه برابره زیات شوی دی.

د یادونې ده چې په افغانستان کې هر کال د ژمي په موسم کې واورې او بارانونه اوري او په همدې ډول د دوبي موسم د اوبو ستونزه هم حل کېږي، خو روان ژمنی په هېواد کې د اورښتونو اندازه د تېرو کلونو په پرتله ډېره کمه ده.

**ناټو:**
## په افغانستان کې خپل نظامي حضور ته دوام ورکوو


۵ مخ

**میاخیل:**
## طالبان هنوز هم با شبکهٔ القاعده رابطه دارند و خشونت‌ها را کاهش نداده‌اند




شاه‌محمود میاخیل، معاون نخست وزارت دفاع ملی می‌گوید که طالبان به تعهدات شان بر بنیاد توافقنامهٔ صلح این گروه با امریکا عمل نکرده‌اند.

آقای میاخیل که در یک ورکشاپ آموزش‌دهی حقوق بشر دوستانهٔ بین‌الملل به سربازان اردوی ملی در وزارت دفاع ملی، سخن می‌زد، می‌گوید که طالبان هنوز هم با شبکهٔ القاعده رابطه دارند و خشونت‌ها را کاهش نداده‌اند.

او همچنین می‌گوید که هرچند کاهش خشونت‌ها با رهایی زندانیان طالب، قطع روابط با القاعده و سایر گروه‌های تروریستی و آغاز مذاکرات میان افغانان، از تعهدات طالبان بر بنیاد توافقنامهٔ این گروه با امریکا استند، اما به گفتهٔ او طالبان به این تعهدات، عمل نکرده‌اند. او با انتقاد از حمله‌های طالبان، می‌گوید که این گروه هرچند بر نیروهای خارجی حمله نمی کنند، اما به «افغان کشی» همچنان ادامه می‌هند.

او می‌افزاید: «هنوز هم با آنان (القاعده) رابطه دارند. پیش از این در عملیات (ولسوالی) ده‌یک (ولایت غزنی) شما دیدید که شش عرب، دو پاکستانی، دو تاجک و دیگران با واسکت‌های مملو از مواد منفجره و جنگ افزارهای دیگر، از بین رفتند. همین گونه در بخش‌های دیگر مثل فراه و میمنه با المصری و گروه‌های هراس‌افگن دیگر، روابط خود را هنوز هم دارند.»

او تأکید می‌کند که نیروهای دولتی، قوانین داخلی و بین‌المللی بشردوستانه را رعایت می‌کنند، اما او طالبان را به ادامهٔ افغان‌کشی متهم می‌سازد.

Aksos
اکسوس کتاب‌پلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# درې لوی مالي زیانونه او د دولت سوړ چلند

د هرات په اسلام کلا کمرگ کې اورلگېدنې پراخ مالي زیانونه اړولي دي. سوداگر وايي چې سلگونه لارۍ او ټانکرونه سوځېدلي او سلگونه نور چور شوي دي. دوی وايي چې د لومړنيو شمېرو پر اساس په دې پېښه کې سوداگرو ته تر سلو میلونو ډالرو ډېر زیان اوښتی دی. د دې تر څنگ د ترانسپورتي شرکتونو او لارۍ چلوونکو کاربندیز دویمې اونۍ ته غځېدلی، چې ورسره د کابل – کندهار لویې لارې تر څنگ ځینې نورې لارې هم بندې شوې دي. دوی وايي، چې په لویو لارو کې ځورول کېږي، وهل کېږي، وژل کېږي او ناقانونه پیسې ترې اخیستل کېږي.

له بله اړخه بیا دویمه اونۍ ده، چې صرافانو په ټول هېواد کې کاربندیز اعلان کړی او وايي چې د افغانستان بانک نوي مقررات یې د کار پر وړاندې خنډ جوړوي او دوی نه شي کولی چې کار ته دوام ورکړي.

د همدغو دریو بحرانونو له امله سوداگرۍ او خلکو ته سخت زیان اوښتی؛ ځکه چې له یوه اړخه لویې لارې بندې دي. له بله اړخه د پیسو په لېږد او را لېږد کې چې د سوداگرۍ مهمه اړتیا ده، ستونزه ده. د هرات د اسلام کلا بندر زیان خو په واضح ډول تر سلو میلیونو ډالرو اوښتی دی. د دغو دریو ستونزو له امله د توکو په بیو کې هم لوړوالی راغلی دی. د سوداگرۍ خونه وايي چې د توکو په بیه کې ۲۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی. که د دغو روانو ستونزو مخه ونه نیول شي، نو نه یوازې به خلکو ته لا زیاتې ستونزې پیدا شي، بلکې بیې به لا پسې لوړ شي.

سره له دې چې دا بحرانونه لوی دي او د اکثریت افغانانو ژوند یې اغېزمن کړی دی، خو حکومت ورسره ډېر سوړ چلند کوي او د ستونزو د حل لپاره یې کوم اساسي گام نه دی اخیستی. صرافان وايي چې له لسو ورځو اعتراض او کاربندیز وروسته نه یوازې ستونزه حل شوې نه ده، بلکې ان د افغانستان بانک چارواکي ورسره خبرو ته هم نه دي حاضر شوي. د صرافانو کاربندیز صرافانو ته مالي زیانونه اړولي او د سوداگرو او نورو هغو خلکو کار یې زیانمن کړی چې د خپلو معاملو لپاره صرافۍ کاروي. له بله اړخه د ترانسپورتي شرکتونو او لارۍ چلوونکو اعتراض هم دویمې اونۍ ته غځېدلی دی، خو دولت لا هم دوی نه دي قانع کړي چې نور به ترې د لویې لارې امنیتي ځواکونه ناقانونه پیسې نه اخلي او نه به ځورول کېږي. ان دولت تر اوسه له اعتراض کوونکو سره په لوړه کچه اغېزناکې خبرې هم نه دي پیل کړي. د اسلام کلا د گمرک د اورلگېدنې په تړاو هم د حکومت دریځ سوړ و او د ولسمشر لومړي مرستیال خو په ډېرو غیرمسوولانه خبرو سره د سوداگرو په زخمونو مالگې وشیندلې. سوداگر؛ مسوولین او مفسد مامورین په دې اور کې پړه گڼي او د تاوان غوښتنه کوي.

حکومتي چارواکي داسې دي چې یا خو پر دې هېڅ خبرېږي نه او یا هم د دغه ولس درد، غم او ستونزې ورته پردۍ ښکارېږي. له همدې امله د دغو درې واړو ستونزو پر وړاندې سوړ غبرگون ښیي او ځان مسوول نه گڼي. د حکومتي چارواکو دا ډول چلند به د دې سبب شي چې خلک لا زیات له چارواکو کرکه وکړي او له دوی سره له هر ډول همکارۍ مخ واړوي.

# چرا مجلس نماینده‌گان بودجه سال ۱۴۰۰ هجری شمسی را مورد تائید قرار نمی دهد؟

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی



پس از تقابل دو هفته یی حکومت و مجلس نماینده‌گان بر سر پیش نویس دوم بودجه سال مالی ۱۴۰۰ هـ.ش به روز هژدهم ماه دلو پیش نویس سوم این بودجه از سوی حکومت به مجلس فرستاده شد. با وجود آنکه بیش از یک ماه از سال مالی میگذرد، اما هنوز پیش نویس مسوده بین حکومت و مجلس نماینده‌گان دست به دست میشود و به نتیجه نمیرسد. قبل از این دو بار پیش نویس بودجه سال مالی ۱۴۰۰ هـ.ش از طرف مجلس نماینده‌گان رد شده است.

### دلائل رد بودجه توسط مجلس نماینده‌گان

دلایل رد بودجه که توسط کمیسیون مالی ولسی جرگه نشاندهی شده، ۱۷ مورد به شرح ذیل میباشد:

شامل نشدن تعدیلات پیشنهادی اعضای مجلس دربودجه؛

شامل شدن برنامه دسترخوان ملی؛

حذف شماری از پروژه‌های مهم از مسوده بودجه؛

پیشنهاد ۴.۳ میلیارد افغانی به واحد عملیاتی و دیگر نهادهای تابع ارگ؛

انتقال برنامه راه سازی از وزارت انکشاف دهات به وزارت فوائد عامه؛

حذف پروژه‌های مهم ولایتی؛

نبود توجه به تعلیق بودجه نهادهایی که از سوی سرپرستان اداره می شوند؛

نارسایی‌ها به پیشنهاد یکسان سازی حقوق کارمندان دولت ورسیده‌گی نشدن به نگرانی مجلس در رابطه با حقوق امتیازی؛

خرچ دسترخوان و کرایه‌های خانه برای مقام‌های دولتی؛

نادیده گرفتن پیشنهادهای مجلس دراستفاده از منابع مالی کشور؛

کمبود وضاحت در باره تمویل منابع داخلی؛

افزایش ۱۵ میلیارد افغانی به بودجه توسعه یی؛

شامل شدن اداره‌های جدید در بودجه ملی بدون توافق آنان؛

مشکلات در بودجه شهرداری‌ها در بخش درآمدها؛

تنقیص حدود ۱۳ هزار تن از تشکیل حکومت ؛

افزایش پروژه‌های ارتقای ظرفیت حکومت در عدم توافق مجلس؛

پیشنهاد ۱۹.۹ میلیارد افغانی برای کسر بودجه از صندوق وجهی پول؛

اضافه شدن ۲۹ پروژه در سند بودجه با وجود انتقادهای مردم و اعضای مجلس؛

افزایش هزینه‌ها درکودهای احتیاط.

وکلای مجلس با رد مسوده‌ء بودجه اعلام کرده اند که اگر وزارت مالیه افغانستان آن را اصلاح نکند و بدون تغییر به مجلس بفرستند، مجدداً رد خواهند کرد.

### جزییات طرح بودجه پیش نویس سوم

مجموع بودجه ملی افغانستان برای سال مالی ۱۴۰۰هـ.ش مبلغ ۴۷۳ میلیارد افغانی تخمین زده شده که از این میان بیش از ۳۱۱ میلیارد افغانی آن بودجه عادی و ۱۶۱ میلیارد افغانی آن بودجه انکشافی است. به همین ترتیب در پیش نویس سوم برنامه دسترخوان‌ملی با هزینه ۲۴۴ میلیون دالر که ۱۶۰ میلیون آن مصرف شده است حذف شده است، اما در بخش دیگر آن بر عملی شدن مرحله دوم این برنامه تاکید شده است.

درپیش نویس سوم پیش از سه میلیارد افغانی از کُد ۲۲، پروژه ارتقاع ظرفیت و بودجه شماری از نهادها کاهش یافته است، اما این رقم برسقف بودجه تاثیری نداشته است.

در بخش دیگر این پیش نویس برای تنظیم راهکار تازه حقوق کارمندان یک کُد ایجاد و در آن بیش از ۱۶ میلیارد افغانی تخصیص داده شده است.

درباره پروژه‌های واحد عملیاتی ارگ آمده است که پس از این تمام پروژه‌های این نهاد در چارچوب برنامه‌های نهادهای دیگر دولتی عملی خواهند شد و واحد عملیاتی نقش نظارتی بر این پروژه‌ها را خواهد داشت. در پیش نویس سوم بودجه موضوع درآمدهای شماری از شهرداری‌ها همچنان واضح نمی باشد، و نیز وجوه احتیاطی در پیش نویس سوم بودجه ۱۹ میلیارد افغانی است.

در پیش نویس سوم کسر بودجه همانند پیش نویس دوم ۳۷ میلیارد افغانی پیش بینی شده است و برای تامین نیازمندی‌های حکومت در سال جاری مالی بیش ار ۱۷ میلیارد افغانی قرضه از نهادهای جهانی در خواست خواهد شد.

### ارتباط برکناری وزیر مالیه با بودجه سال ۱۴۰۰ هـ.ش

ریاست جمهوری روز شنبه ۴ دلو با صدور حکم برکناری عبدالهادی ارغندیوال وزیر مالیه کشور را صادر نمود، و در یک حکم دیگر برای این پست محمد خالد پاینده را منحیث سرپرست معرفی نمود. عزل وزیر مالیه کشور آنهم در زمان حساسی که بودجه سال ۱۴۰۰ هـ.ش دو بار در مجلس نماینده رد گردیده است، و اختلافات میان حکومت و مجلس نماینده گان افغانستان بر سر تصویب بودجه جریان دارد، سوال بر انگیز است. اداره امور دلیل عزل وی را تعلل در جمع آوری درامدها، عدم همکاری با هیئت مشترک بررسی مقرری‌های غیر قانونی و ممانعت از این نوع بررسی، ضعف مدیریتی و عدم تعهد به ارزش های حکومتداری خوب عنوان می کند؛ اما آقای ارغندیوال ضمن نشست خبری به تاریخ ٦ دلو اتهامات وارده را رد نموده گفت، حلقاتی در ارگ ریاست جهوری افغانستان همیشه در کار او مداخله می کردند و تلاش او برای بستن مجراهای سود آوری این حلقات، وی را با مشکل روبرو ساخت. آقای ارغندیوال همچنان اظهار داشت که از رئیس جمهور خواسته بود تا مستقیماً با وی در تماس شود نه از طریق حلقات خاصی که به دنبال منافع شخصی خود هستند و زمانی که این منافع قطع شود، یک روز هم در افغانستان باقی نخواهند ماند، اما وی از کسی نام نبرد. آقای ارغندیوال دلیل دیگر برکناری اش را شرکت در کمیسیون تدارکات ملی معرفی نمود که طی آن بر قرارداد خریداری ۱۸ نوع گوشت برای اداره‌ء امور و قرارداد خریداری نفت در مقابل هر لیتر ۴۱ افغانی اعتراض نموده بود، درحالیکه نرخ نفت در بازارهای کابل ۳٦ افغانی بود. موضوع خریداری ۱۷ نوع گوشت و مصرف ۳۰ میلیون دالر برای خریداری سبزیجات از سوی اداره‌ء امور، از سوی یکی از وکلای پارلمان مطرح و جنجال بر انگیز شد.

ظاهراً برکناری وزیر مالیه از پست وزارت مالیه، ارتباط مستقیم با قضیه‌ء بودجه نداشته است؛ اما با توجه به نبود اعتماد و هم آهنگی میان ارگ و وزیر مالیه در قسمت مصارف، بعید نیست که تعامل وزیر در رابطه به تهیه‌ء بودجه نیز مورد پسند رئیس جمهور و حلقه‌ء ارگ نبوده است.

### تأخیر در تصویب بودجه و تاثیر آن بر اقتصاد کشور

بودجه در سرنوشت اقتصادی هر کشور نقش کلیدی ایفا می کند، و صورت هزینه سالیانه دولت به حساب می آید. از همین رو دولت حساسیت بیشتری روی تنظیم بودجه دارد، و در شاخه تامین منابع به طور دقیق باید مشخص سازد که از چه منابعی می خواهد بودجه را تامین کند.

بدون شک با آغاز سال مالی فعالیت‌ها سال آغاز میگردد، اگر دولت برای آغاز فعالیت‌های خود بودجه لازم را در دسترس نداشته باشد، همین امر سبب کندکاری و مشکلاتی را در برخی از عملکردها با خود به همراه دارد. بودجه در شرایط فعلی نوعی برنامه تعین شده برای پیشرفت در آینده میباشد، اگر در زمان درست تعیین شده و در اختیار جهت‌های مسؤل قرار نگیرد، باعث بروز مشکلات متعدد شده می تواند؛ اما متوازن بودن بودجه که مجلس نمایندگان روی آن تأکید دارد، نیز امری اساسی می باشد. در غیر آن وضعیت اقتصادی بی‌ثبات کشور بیشتر بی‌ثبات خواهد گردید.

وضعیت افغانستان با عوامل گوناگون دچار پیچیده‌گی های خاصی میباشد که پیش بینی اوضاع را مشکل نموده است. با این حال در وضعیت این چنین کشور اینکه اگر پروسه صلح به نتیجه معین برسد، بدون شک با تغییرات شرایط به همراه خواهد بود، تغییرات شرایط نیاز به تصویبات و فیصله‌های جدید خواهد داشت و امروز عدم تصویب بودجه تاثیر هنگفت روی اقتصاد و وضعیت اقتصادی کشور آن زمان نخواهد داشت.

اما این که اگر پروسه صلح به صورت پیچیده و نامعلوم باشد و یا این که به نتیجه معین اختتام نیابد، شرایط همینگونه حاکم خواهد بود و تغییرات نیز موجود نمی باشد و عدم تصویب بودجه در زمان معین شده ضرر اقتصادی و اجتماعی بزرگ دولت و جامعه را مقابل خواهد نمود. در طرح بودجه باید میزان هزینه‌ها، حجم سرمایه گذاری، چگونگی اشتغال زایی و اهداف توسعه مشخص باشد و همچنین دولت باید به آثار بودجه در همه بخش‌ها شامل دستگاه‌های دولتی، مصرف کننده‌گان، تولید کننده‌گان، سیاست‌های اجرایی و... توجه داشته باشد به همین منظور مجموعه و طرح بودجه سرنوشت اقتصادی کشور را مشخص می سازد.

وکیل مجلس نماینده‌گان از ولایت هرات استاد حمیدالله حنیف تأکید دارد که طرح بودجه باید به اساس منافع ملی باشد. درین طرح باید به زیربناها بیشتر توجه شده و پول‌ها طوری مصرف شود که در پائین آوردن سطح فقر در سال‌های آینده مؤثر واقع گردد. وی همچنان از خطر حیف و میل در بودجه هشدار داده و روی تعادل در معاشات تأکید دارد. وی در دفاع از موقف ولسی جرگه در ارتباط به عدم تصویب طرح بودجه می گوید: «توجه به معاش مأمورین، سربازان و استادان در صدر جدول کاری ولسی جرگه قرار داشت و به مصارف بی جا در طرح بودجه اجازه داده نخواهد شد.»

با وصف درست بودن موقف مجلس نمایندگان در مورد رد طرح بودجه برای بار سوم، و تأکید روی اصلاحات درین طرح، نباید رد و بدل شدن طرح بودجه میان ارگ و مجلس نماینده‌گان، سبب تأخیر کارها به خصوص پروژه‌هایی گردد که منفعت آن مستقیماً به مردم میرسد. هرچند عدم تصویب بودجه مانع پرداخت معاشات کارمندان دولتی نمی گردد و قوه‌ء اجرائیه مطابق قانون صلاحیت دارد تا آنرا حسب معیارهای سال قبل به اجراء بگذارد، اما متأسفانه حکومت افغانستان نیز به خاطر بلند شدن آواز مردم و ایجاد فشار بالای ولسی جرگه، در موارد زیادی حتی از تأدیه‌ء معاشات نیز خودداری می کند. امیدوارم کشمکش موجود میان ارگ و مجلس نماینده‌گان هرچه زود تر با واقع بینی و به نفع مردم پایان یابد تا حکومت و مردم از تأثیرات سوء عدم تصویب بودجه در امان مانده و وضع اقتصادی شکننده کشور، شکننده تر نشود.

# د مصريانو د فبرورۍ انقلاب؛

## د اسلامي امت حال او د افغان وطن د خوږ جاج!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د مصر د تحرير ميدان په همداسې يوه ورځ له هغو خلکو ډک و، چې د نيمې پېړۍ ډيکتاتور يې په يوه سوله‌ييز گام کې له واکه لرې کړل.
د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۱۱مه، ډيکتاتور حسني مبارک له واکه استعفاه ورکړه، نظاميانو د يوې وينا‌پاڼې له لارې د يوې ولسواکې ټولنې د رامنځته کولو په موخه ژمنتيا وکړه.
هغه چې بيا ټاکنې وشوې، مصري ملت د اخوان المسلمين گوند نوماند ډاکتر محمدمرسي د پوځ نوماند پر خلاف د بريا رايه وکاروله.
لوېديځه نړۍ چې کله په مصر کې د سياسي اسلامپالو دا عظيمه بريا او د ډاکتر محمدمرسي تاريخي گامونه د مصر او اسلامي نړۍ د بيا يووالي او الگو کېدلو په لار کې وليدې، نو اسلامي وينښتابه ته يې د عربي (پسرلي) اصطلاح وکاروله، د پردې تر شا يې مستبدو او د دوی ابن غلامو نظاميانو ته چې د خپلو ولسونو په ټکولو، ځملولو او ماتولو کې د بلواکۍ او وحشت تياره مخينه لرله، ملاتړ وکړ او د اخوان المسلمين په مشرتابه لومړی سياسي اسلامي حکومت يې په وروستي ظلم، جنايت او ربړونو سره نسکور کړ.
له کودتاه وروسته د اخوان المسلمين د ولسي حکومت د اغېزې او ځواک د ختمولو په لار کې امريکا، اسراييلو او د ال سعود د وهابي- تکفيري مورثي حکومتونو په ملاتړ السيسي مصري ملت ډېر وټکاوه، سختې ربړې يې ورکړې او د دغه جريان د بنسټيز ماتولو په لار کې يې له هېڅ ډول وحشت او درندگۍ څخه دريغ ونه کړ.
د يادونې وړ ده چې اروپايي ټولنې يوازې د غربي ارزښتونو د تمثيل په پاره هسې درواغجن او نمايشي دريځونه نيول او تر پايه يې داسې گام اوچت نه کړ چې کودتاه دې نظاميان وډاروي.
د شهيد ډاکتر محمدمرسي په مشرتابه د اخوان المسلمين د لومړي سياسي اسلامي حکومت له نړولو او ټکولو څخه د غرب موخه دا وه، چې اسلامي خوځښتونه، مسلمان متفکرين او په ټوله کې اسلامي امت ته پيغام ورکړي چې که تاسو زموږ له مخامخ پرستښ څخه د ډيموکراسۍ په پوښ کې لاس واخلئ، ولو چې ټول شکليات مو غربي هم وي، موږ ته د منلو نه دي او کولای شو په ډېره اسانه مو د مرگ، تباهۍ او دربدرۍ تر دم ځایه ورسوو.
بل لور ته زموږ په گران هېواد کې د سياسي اسلام په ارونو د ايډيال اسلامي حکومت د رامنځته کولو دوه ځله هڅې چې يوځل د مجاهدينو د اسلامي حکومت تر چتر لاندې وشوې او بل ځل د طالبانو د اسلامي امارت په دريځ کې پيل شوې، له همدغسې گواښوونکي برخليک سره مخ شوې.
له دې داسې ښکاري چې د اسلام او لوېديځ تر منځ د تمدني ټکر جگړه په شدت روانه ده، هغه چې غرب غواړي د داعش په څېر د وحشتکارو او تکفيري ډلو په رامنځته کولو او د سعوديانو په څېر د مذهبي متعصبينو د ملاتړ او همکارۍ په ائتلاف کې د سياسي اسلام رښتيني او ملتپاله موډلونه چې اخوان المسلمين، د ترکيې د عدالت او پراختيا گوند يا د اندونيزيا اسلامپالو رهبرانو لکه مهاتير محمد چې وړاندې کړې پيکه، بې سيکه او د سياسي، ټولنيزو او نظامي فشارونو په ترڅ کې يې يو مخ ماتې خوړلې ده.
دا ځکه چې لوېديځ د چومسکي، ډيک چينې، هنري کسينجر او ساموېل هانتينگټون په څېر د ځيرکو تيوري پالانو او د خپلو استخباراتي- تحليلي مطالعاتو او شننو په پايله کې دې باور ته رسيدلي، چې د چين او روسيې گواښ د تمدنونو او نړيوالې مشرتابه په دريځ کې دومره ورته چلېنج پاروونکي او گواښوونکی نه دی، لکه له يوه بشپړ امت سره ټکر.
دوی پوهېږي چې که د مسلمانو ملتونو او پرگنو په منځ کې د يووالي، ځواک رامنځته کول او بيا د دې ټولو پوټنشيلونو گنډونکي څرکونه چې هوښيار او د معاصرې نړۍ په نبض او رواج پوهېدونکي سياسي اسلامپاله خوځښتونه دې په خپل متن او بطن کې ايل، بېل او مات نه کړي، نو نشي کولای چې د سترو لښکرو، غټو عسکري مارشونو او حتی بشر ټولوژونکو وسلو دې هم دا ستر امت کنټرول کړای شي.
په همدې پار دوی د ال سعود وهابيان او د سعودي په محور خليجي افراطي- مستبد نظامونه ساتي او د هغوی له لارې له ايران سره د سني او شيعه جگړې ته لمن وهي او په نوره اسلامي نړۍ کې د څلورو اهل سنتو مذهبونو تر منځ بې ارزښتو فتنو ته منظم او هدف محوره کار کوي.
همدارنگه دوی د داعش، بوکوحرام او دېته ورته توندلارې- تکفيري ډلې رامنځته کوي چې د سياسي اسلام رنگ پيکه او مسلماني ټولنې له دننه څخه ماتې، ټوټه ټوټه او په پای کې وپاشي.
بل لور ته له فاسدو سيکولرانو، ملحدو او مستبدو واکمنو او دولتونو د ډيموکراسۍ او حکومتونو په عنوان ملاتړ کوي، څو په يو وخت مسلمانه ټولنه د خپل ټولنيز امنيت او ځان‌ساتنې په دريځ کې تر خپل منځ ښکېله، په شخړو کې راگير او په لويه کې د ثبات او امن ټول څرکونه پکې چې د اسلامي ژوندانه او د يوه ايډياله سياسي اسلامي نظام لارې ته رسېدل دي، په بنسټيزه توگه مات کړي.
د دې ډوله ټولنو ښې بېلگې سوريه، عراق، لبنان، افغانستان او د افريقا ځينې مسلمان ملتونه او هېوادونه دي.
په پای کې دا چې اسلامي نړۍ په وروستۍ ناهيلۍ سره د مصنوعي او ډراماتيکو ټکرونو او توپانونو په يوه سخت امتحاني گرداب کې راگير ده، د مصر، عراق او سوريې له حالاتو د زده کړې او عبرت تر ټولو ښه لاره په افغان وطن کې د اسلامپاله او ملتپاله تعريف په سيوري کې سولې ته کار، د بهرنيو ځواکونو له شړلو ملاتړ، ملي او مذهبي زغم ته کار، د ټولنيزو لړکيو د معقولو او ممکنو حقونو د ساتلو باور ورکول او په ټوله کې د سولې، امن او افغانستان ژغورنې له رامنځته شوي تاريخي فرصت او چانس څخه هوښيارانه گټه پورته کول دي.
افغانستان د اسلامي امت او نړۍ يوه اغېزمنه شوې برخه ده، د افغان وطن د ښې ورځې سيالي سبا او امن لپاره نن کار کول د اسلامي امت د گډ ارمان، ايډيال دريځ او تاريخي عزتمندۍ ته د ژمنتيا او پاللو تر ټولو ښه بېلگه ده.

# د اسلام کلا بوړنوونکې پېښه؛


## رحماني: ماليې وزارت مسوول دی، سوداگرو ته اووه سوه ميليونه ډالر زيان اوښتی



په هرات کې وروستۍ اورلگېدنې په نړيوالو او کورنيو رسنيو کې توند غبرگونونه پارولي دي. افغان چارواکو هم پر دې مسئله اندېښنه ښودلې او ولسي جرگه هم دغه پېښه بوړنوونکې بولي. تازه د ولسي جرگې رييس مير رحمان رحماني ويلي، چې دغه اورلگېدنې شاوخوا اووه سوه ميليونه ډالر زيان اړولی دی. د ده په وينا، افغان حکومت بايد دا پېښه په جدي توگه وڅېړي او په وينا يې، د ولسي جرگې يو پلاوی هم د دې پېښې ارزونه کوي. د هرات والي بيا وايي چې دوی د اتيا سلنې موټرونو او توکو په ژغورنه بريالي شوي دي.
هرات د افغانستان يو له هغو ښارونو دی، چې تر ډېره د هېواد واردات د همدې ولايت له لارې ترسره کېږي. په دې ولايت کې د اسلام کلا مهم سوداگريز بندر پروت دی، چې هره ورځ سلگونه موټرونه په دې سيمه کې گمرک کېږي او بيا د هېواد نورو ولايتونو ته ځي، خو د سوداگرو په وينا، د ماليې وزارت او د اسلام کلا گمرک د بې پروايۍ له امله په دغه گمرکې يوه بوړنوونکې پېښه رامنځ ته شوه چې له امله يې د سوداگرو لسگونو موټرونو او د تېلو او گازو ټانکرونو اور واخيست. دې مسئلې پر ماليې وزارت او اسلام کلا گمرک نيوکې ډېرې کړې دي.
تازه د ولسي جرگې رييس مير رحمان رحماني په يوه پيغام کې دغه پېښه خورا بوړنوونکې او د اندېښنې وړ بللې ده. مير رحمان رحماني وايي، دغه مسئلې نه يوازې دا چې لسگونو سوداگرو ته درانه زيانونه اړولي، بلکې په هېواد کې د عامو افغانو پر ژوند مستقيم اغېز لري. هغه زياتوي چې د لومړنيو معلوماتو له مخې، په اسلام کلا کې شوې اورلگېدنې اووه سوه ميليونه ډالر مالي زيانونه اړولي دي. د رحماني په وينا: «د اسلام کلا په گمرک کې بوړنوونکې اورلگېدنه خورا خواشينوونکې وه. سره له دې چې تر اوسه د دغه پېښې زيانونه په دقيقه توگه نه دي روښانه شوي، خو لومړني معلومات ښيي چې سوداگرو ته اووه سوه ميليونه ډالر زيان اوښتی دی. د دې تر څنگ ځينې خلک په دې پېښه کې ټپيان شوي هم دي».
د ولسي جرگې رييس د ماليې وزارت او د گمرکونو د برخې ادارات په کم کارۍ تورنوي او په وينا يې، دغه پېښه د دوی د کم کارۍ او بې پروايۍ له امله رامنځ ته شوې ده. د رحماني په خبره: «خو يو څه چې روښانه دي، هغه دا دي چې دغه پېښه د اسلام کلا د گمرک او ماليې وزارت د کارکوونکو د بې غورۍ له امله رامنځ ته شوې ده. دوی بايد سوداگرو او زيانمنو شوو ته د دغه پېښې په تړاو ځواب او وضاحت ورکړي».
د ولسي جرگې رييس دغه راز ژمنه کړې چې د يادې پېښې په اړه به هر اړخيزه پلټنه کوي او معلومات به يې له خلکو سره شريکوي. د ده په خبره: «له دې لارې د پېښې ټولو ټپيانو ته عاجله شفا غواړم. ژمنه کوم چې په دې پېښه کې ټول عوامل په هر اړخيزه توگه څېړو. ولسي جرگه به هر څه په دقيقه توگه وڅېړي او معلومات به له لس سره شريک کړي».
له دې سره جوخت د هرات والي هم په يوه خبري غونډه کې دغه پېښه بوړنوونکې وبلله او په وينا يې، سره له دې چې دوی پر وخت اقدام کړی، خو بيا هم لسگونه موټرونه د اور لمبو سوي دي. د ده په وينا، دوی برياليي شوي چې شاوخوا اتيا سلنه موټرونه وژغوري. هغه وايي، چې د ژغورل شوو وسايطو شمېر تر دوو زرو اوړي.
بلخوا افغان سوداگر بيا حکومت د وروستۍ پېښې مسوول بولي او په وينا يې، دوی په ځلونو افغان حکومت ته شکايت کړی چې د اسلام کلا گمرک د موټرونو د تم کېدو ظرفيت نه لري او د داسې پېښو احتمال شته دی. سوداگر وايي چې که گمرک له فساد پاک وي او کارونه په وخت ترسره کېدی، نو سلگونه موټر به دې ته نه اړ کېدل چې په گمرک کې پاتې شي او دوی ته به زيانونه هم نه اوښتل. افغان حکومت بيا تر اوسه يوازې ويلي: «چې سرونه جوړ وي، خولۍ پرېمانه دي».

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له ۱۰۹میلیونه او ۴۵۱ زرو کسانو اوښتی

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۹ ميليونه او ۴۵۱ زره او ۹۸۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله دوه ميليونه او ۴۱۲ زره او ۸۴۳ کسان مړه شوي او له ۸۱ ميليونه ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.
د يادو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونه د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امريکا کې د دغه ويروس مثبتې پېښې ۲۸ ميليونه او ۲۶۱ زره او ۴۷۰ ته رسېدلي او ۴۹۷ زره او ۱۷۴ نور امريکايان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ ميليونه او ۹۱۶ زره او ۵۸۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د نهه ميليونه او ۸۳۴ زره او ۵۱۳مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دريېم، روسيه د څلور ميليونه او ۸۶ زره او ۹۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانيا د څلور ميليونه او ۳۸ زره او ۷۸مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانيا، ايټاليا، ترکيه او جرمني بيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته مهال سپينه ماڼۍ وايي، د امريکا ولسمشر جو بايډن به د راتلونکې جمعې په ورځ د جي-۷ هېوادونو له مشرانو سره د کرونا وبا او د نړۍ د اقتصاد په رغولو خبرې وکړي. سپينې ماڼۍ په يوه خبرپاڼه کې ويلي چې بايډن به دغې غونډه کې کرونا وبا ته د نړۍ په کچه د ځواب ورکولو په لارو چارو او د دغې ناروغۍ پر وړاندې د واکسين پر وېش خبرې وکړي. بلخوا د روغتيا نړيوال سازمان خبرداری ورکړی، چې د کرونا واکسين د وېش په برخه کې د شتمنو




هېوادونو (لومړی زه) تگلاره بې‌وزله هېوادونه له خطر سره مخامخوي او دغو هېوادونو کې د ويروس پراختيا دوام مومي.
د جي-۷ يا ۷ صنعتي هېوادونو دا غونډه د برېټانيا د لومړي وزير بوريس جانسون په کوربه‌توب ترسره کېږي. د دغه سازمان غړي هېوادونه برېټانيا، جرمني، کاناډا، امريکا، فرانسه، ايټاليا او جاپان دي. تېر کال د دغه سازمان هغه غونډه چې د امريکا په کوربه‌توب ترسره کېده، د کرونا وبا له کبله لغوه شوه.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




که څېرکتیا او پوهه یې یوې خوا ته کړو، نو آن د بوټو نژدې همکاران هغه یو فاشیست بولي. مخالف نظر یې بېخي زغملای نه‌شو. د «مبشر حسن»، «معراج محمد خان»، «مصطفی کهر» او «جی. ایم. رحیم» غوندې کسان چې د ده نږدې ملګري وو، یو، یو ترې لاړل؛ ځکه ده تر ځان پورته څوک نه مانه. یوه بله به درته وکړم، بوټو چې به ماښام له غونډو خلاص شو، کرۍ شپه به یې شراب څښل او بیلیارد به یې کاوه، خو چې سهار به تر و تازه و، که چا ته به یې ټیلیګرام استوه، نو د چا به شک هم نه راتلو چې ګوندې ده دې ټوله شپه په رڼو سترګو تېره کړې وي.

ما له بېنظیر بوټو سره شخصي پېژندګلوي درلوده، د هغې په دواړو دورو کې ما ماموریت کړی دی. ما سره یې دوه ځلې ښه کړي دي. لومړی پلا چې لومړۍ وزیره شوه، د دې په تړاو مشهوره وه چې په تنکي عمر کې یې کړاونه ګاللي دي؛ مثلاً پلار یې په دار کړل شوی و او دا تبعید شوې وه؛ په تړاو یې دغسې نورې ډېرې افسانې او کیسې هم مشهورې وې. دا بېرته هېواد ته راستنه شوه، دویم ځل چې لومړۍ وزیره شوه نو د هېواد د بېوزله طبقې د رایو په زور شوه. واک ته هم د دغې طبقې په زور ورسېده او د پلار تخت او تاج یې هم د دوی په زور تر ګوتو کړل. دکتاتور خو خدای ځانته وربللی و. د ضیا ناڅاپي مرګ خلکو د دې په حق کې خدایي مرسته بلله.

خو هغې د نېستمنو لپاره هېڅ هم و نه کړل. دومره څه یې لا نه وکړل چې آن پنځه سلنه سیاسي ګټه یې ورته کړې وي. لکه نږدې ملګري یې چې وایي، لومړی پلا یې مېړه په فساد کې اخته و، خو دویمه پلا هغه پخپله په اداري فساد کې ډوبه وه.

دویم ځل لومړۍ وزیرې کېدا په درشل کې پر دې فکر وه چې څوک یې مخې ته درېدلای نه‌شي. بس بخت یې زورور و او بله دا چې مهم لوبغاړي یې تر څنګ ولاړ وو. په پنجاب کې د هغې د متحدینو حکومت و او د امریکا د ترحم لاس یې پر سر و، که څه هم وروسته یې چې امریکا ته دوه درې ځلي د مرستې نارې سورې وکړې، خو هغلته یې پرې غوږ ونه ګراوه.

له تېره یې عبرت اخیستی و او له پوځ سره یې ښکر نه جنګاوه. د هغې له انده که د لومړي ځل صدارت پر مهال یې له پوځ سره ښې اړیکې پاللې وای، نو ښایي چې په واک کې پاتې شوې وای. زه د یوه عیني شاهد په توګه درته وایم چې د هغې په راپرځولو کې د پوځ هېڅ رول نه و. خو چې له واکه لرې کړای شوه، پوځ پرې خوښ و. ولسمشر غلام اسحاق خان ته د هغې د لرې کولو لپاره زمینه پوځ نه وه برابره کړې.

په ټوله کې زما له سیاستوالو سره ډېره نه لګېږي، خو نواز شریف، زرداري او بېنظیرې چې څومره ملي عواید لوټ او تالا کړي دي، د نورو سیاستوالو هغه یې ګرد ته هم نه رسېږي. راجیو ګاندي چې پاکستان ته راغلی و، رسمي مېلمستیا ته زه هم وربلل شوی وم، ځکه دغه مهال زه د پوځ د استخباراتو رئیس وم. معمولاً به زه ډېرو مېلمستیاوو ته نه دعوت کېدم. په مېلمستیا کې ډیپلوماتیک اداب او د پاکستان وقار تر پښو لاندې شوي وو، د رسمي څښاک (شرابو څښل) پر ځای لکه د بازاري مجلسونو غوندې پروګرام جوړ شوی و. د بېنظیر بوټو له انده دا تر پروټوکولونو پورته وه. همدارنګه د آلمان ولسمشر چې پاکستان ته راغلی و، نو ولسمشر «لغاري» ورته د مېلمستیا تابیا کړې وه، زه یې هم وربللی وم؛ ځکه دغه مهال زه په آلمان کې د پاکستان سفیر وم. بېنظیره راغله او خپل دوه ماشومان یې له لاسونو نیولي وو، ته وا دا یوه فامیلي مېلمستیا وه. کېدای شي امریکایان به هم دغسې کارونه کوي، خو نور هېوادونه دغه کار ښه نه ګڼي او بلکې د احترام او وقار خلاف یې بولي.

راجیو یې بېخي پروا و نه کړه. دواړو ګډ مطبوعاتي کنفرانس درلود. په کنفرانس کې یو ژورنالیست له راجیو نه د کشمیر په تړاو پوښتنه وکړه، ده په ځواب کې وویل؛ موږ تازه دغلته ټاکنې وکړې تاسو دا پر څه لګیا یاست؟ له بېنظیرې بوټو لاره ورکه وه چې څه ووایي. راجیو د هند د پالیسي سره سمې خبرې وکړې، خو بېنظیرې چې تجربه نه درلوده، د معقول ځواب په ورکولو کې پاتې راغله. د راجیو لیدنې بېنظیرې ته کومه ګټه و نه‌کړه. خلکو ویل راجیو چې څه ویل، بېنظیره پرې پوهېده؟ اصلاً ځواب ته یې زړه کېده او که نه؟ دا خو به مازې یوه دوستانه لیدنه نه وه؟ او آیا د بېنظیرې پر مقام یې اغېز درلود؟ عامو خلکو به یو بل څخه دغسې پوښتنې کولې.

دولت: شخصاً ما ته بېنظیر بوټو ګرانه وه، خو که هند له عینکو ورته وګورو؛ نو واجپای او میا صېب ځانګړې راشه درشه سره درلوده. واجپای د میا صېب ډېر احترام کاوه او د هند-پاکستان اړیکو پلان یې ټول په میا صېب پورې غوټه کړی و. پر میا صېب چې کودتا وشوه، واجپای ناامیده شوی و او خوا یې هم بده وه. همدغسې د کانګرس«UPA» د حکومت وروستۍ شپې ورځې وې، په ۲۰۱۳م کې چې په پاکستان کې ټاکنې وشوې، د «شارت سبهروال» د خدمت موده تمدید کړل شوه.

**دوام لري...**

# ډاریو فو

شفیق امیرزی

ډاریو فو ایټالیوی معاصر لیکوال دی چې نه یوازې په لیکوالۍ؛ بلکې په تیاتر، طراحۍ، لوبغاړۍ، میوزیشن، ترانه جوړونې او نقاشۍ کې هم لوی لاس لري. هغه په سیاسي فعالیتونو کې هم ښکېل و او په لیکوالۍ او هنري برخه کې خو دومره مشهور شو، چې په ۱۹۹۷ کال کې یې د نوبل جایزه وګټله. د هغه لیکنې او ننداري ډېر وخت د سیاسي وضعیت په غبرګون کې لیکل کېدې او پر سیاسي مسایلو یې خلک خندول. د ایټالیا سیاسي او ټولنیز وضعیت یې نقد کاوه او پر ډېرو جدي مسایلو یې نقدي خندنۍ ډرامې جوړولې. هغه د خپل وخت له مشهورو لیکوالانو، هنرمندانو او فیلسوفانو متاثر و او د ډېرو لویو هنرپاله شخصیتونو شاګرد هم پاتې شوی و.

ډاریو فو په ۱۹۲٦ کال کې د ایټالیا د یوه صنعتي ښارګوټي سنجیانو، د لجیونو سیمې په وارزه کلي کې زیږېدلی دی. د هغه کورنۍ د فاشېزم او فاشستي افکارو ضد وه او دی هم په همدې کورنۍ کې را لوی شو. پلار یې د رېل پټلۍ کارکوونکی و او کمونیستي مفکوره یې لرله. په همدې خاطر د ډاریو فو د ژوند ډېره برخه له یوې سیمې بلې ته په کډوالۍ او تګ راتګ کې تېره شوه. چېرته به یې چې د پلار دنده وه، نو کورنۍ هم اړ وه چې ورسره لاړه شي. تر ډېره به له خپلې مورنۍ نیا سره و. کله به چې له هغه کره لاړ، نو د دوی د سترو کروندو محصولات به یې په بازارونو ورسره پلورل. د هغه نیکه ډېر چالاک سړی و، د توکو د پلور پر مهال به یې د خلکو پام ځان ته را اړاوه. ده به په زړه پورې کیسې کولې، په زړه پورې خبرې به یې کولې او له کیسو سره د ډاریو فو مینه او اړیکه له همدې ځایه پیل شوه.

مور یې پینا روټا نومېده. روښنفکره مېرمن وه او لیکوالي به یې کوله. یو کتاب یې د ځونګښو ځمکه نومېږي چې په ایټالیا کې یې د هغه مهال د کارګرو او کروندګرو کورنیو ژوند انځور کړی دی. مور یې ډېره چالاکه وه او په خپله لیکوالۍ یې د دوی په کورنۍ کې شور جوړ کړی و. هغه مهال د نړۍ له مشهورو لیکوالانو لکه برتولت برشت، ویلادیمیر مایکوفسکي، ادواردو ده فیلیپو او فدریکو ګارسیا لورکا سره اشنا وه. په ۱۹۴۰ کال کې چې کله ډاریو فو تنکی ځوان و، نو میلان ښار ته وکوچېد. په دې ځای کې یې په بېرا اکاډمۍ کې زده کړې پیل کړې. د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې د جبري عسکرۍ خدمت ته را وبلل شو، خو له دې جبر وتښتېد او د جګړې وروستۍ میاشتې یې په یوه زړه جونګړه کې په پټه تېرې کړې. کله چې جګړه ختمه شوه، دی هم ژوند ته را وګرځېد او د میلان په پلي تیکنیک پوهنتون کې پر زده کړو بوخت شو. دی همدلته پر زده کړو بوخت و چې عصبي حمله ورباندې راغله او له همدې امله اړ شو چې پوهنتون په نیمایي کې پرېږدي. له دې وروسته یې سینما او تیاتر ته مخه کړه.

ډاریو فو د خندا عاموونکی و. ښایي تاسې ته پوښتنه پیدا شي چې څنګه عاموونکی؟ خندا خو هسې هم عامه ده او هر څوک کولی شي وخاندي. خو د ده په اړه یو څه ډېر مهم دي، چې ده تیاتر او ډرامې له انحصاره را و ایستې. تر ده وړاندې به ډرامې یوازې اشرافو کتلې، د خندنیو صحنو لپاره به یې یوازې شتمنو خندل. یوازې چارواکي به ورته ناست وو. د وخت مهم کمیډن به د شاهانو او وزیرانو په دربار کې ناست وو او یوازې دوی ته به یې مسخرې کولې، خو فو د دې هر څه مخالف و. ده ویل چې د خندا خبرې باید عامې وي او عام خلک هم باید دا خبرې واوري. ډاریو فو د شاهانو د دربار هغه ممثل و، چې تمثیل او ډرامې یې دربارونو، عامو کوڅو او عامو محفلونو ته یوړې. له همدې امله د ډاریو فو په اړه وایي چې هغه د خندا د عاملو او خندا د ملي کولو سرلاری دی. هغه د خپلو خندنیو صحنو لپاره د ملي خندا اصطلاح وکاروله. په دې مانا چې ملت باید وخاندي، پر هر هغه څه چې د خندا وړ وي، باید رابرسېره شي، هغه سیاست باید مسخره شي چې سیاستوال یې د ولس د ژغورلو لار بولي، خو په حقیقت کې یوازې تېر ایستل وي. هغه پلان باید خندنی شي او خلک ورباندې پوه شي چې ولس ته ښه ښکاره شوی، خو په اصل کې چارواکو د ځان د مړولو او لویولو لپاره کنده کېندلې ده. په دې توګه نو هغه د دې ملاتړی و، چې تمثیل او ډرامې باید عامې شي او هر څوک پر هغه څه وخاندي چې د خندا وړ وي او هر څوک باید هغه څه ته خوشاله شي چې په دربارونو کې یوازې اشراف ورته له خندا شنه وي. ده به ویل، په ډرامو او تمثیل کې باید ټول حاضر وي، هنر باید محاصره نه شي او ښې خبرې باید د افرادو په کورونو کې بندې نه شي. هغه په دې باور و چې که ملت پر ناسم سیاست وخاندي، پوه شه چې د وخت د واکمنانو پښې ربړدي. ده ته چې کله په ۱۹۹۷ کال کې د نوبل جایزه ورکول کېده، هلته یې هم پر همدې ټینګار وکړ، ده ویل هېڅ شی د واکمنو پښې دومره نه شي کمزورې کولی لکه د دوی پر دوکو، ناسمو کړنو او بې پروایيو چې عام وګړي وخاندي.

خو له دې هر څه سره چې موږ یاد کړ، ډاریو فو یوازې د خندولو سړی نه دی، که داسې وي، نو کتابونه به یې یوازې ټوکې وې؛ خو نه هغه ډېرو ژورو مسایلو او ناخوالو ته هم کتنه کړې ده. فو په یوه غشي دوې ښښې ویشتې. له یوې خوا یې لیدونکي خندول او له بلې خوا یې دوی خپلو نیمګړتیاوو ته دومره متوجه کول، چې د ډرامې تر خلاصېدو وروسته به یې سر څړیکې وکړې، پوه به شول چې کیسه چېرې وه. دی دې لومړی خندوي او وروسته دې پر خپل حال ژړوي. دی په خپله وایي، له تیاتر د خندا د یوه ستر ماشین په توګه استفاده کوي، خو تر څنګ یې موخه دا ده چې لیدونکی وپاروي، د هغه کرکه وپاروي او هغه پر خپلو ناسمو کړنو غوسه کړي. دی وایي، که له دې دواړو کارونو یې یو کړی وی او بل پاتې وی، نو ارو مرو به په خپلو چارو کې ناکام و. له همدې امله وایي چې فو د انسان دوې مهمې ځانګړنې سره یو ځای کړې دي. ده خندا او غوسه سره ګډ کړې دي، سیاست او خندا یې سره یو ځای کړي دي، شعر او سیاست یې یو ځای کړي، په دې توګه یې په خپل فکر او هنر کې انسان ته ارزښت ورکړی دی.


د عامه پالنې په برخه کې ډاریو فو تر ډېره د برتولت برشت لاره تعقیب کړې ده. د ده دې مفکورې ته ډېر وخت برشتي مفکوره ویل شوې ده. دی وایي، د انساني ژوند تر ټولو پېچلي او ژور مطالب باید راپیدا شي او وربادې بحث وشي، خو په دې شرط چې دغه مطالب د انسانانو له تاریخ، هویت او دودونو سره تړلي وي.

د ده په اثارو کې ډېر وخت یوه ارادي یا غیر ارادي روښنفکري موجوده وي. تل یې غوښتي چې خلک له وړو فکرونو او وړو مسایلو را پورته کړي او د ژوند پر مهمو لارو یې ودروي او مهمو مسایلو ته یې متوجه کړي. له همدې امله ویلی شو چې هغه په زهرو کې ګوړې خرڅولې، خبرې یې ترخې؛ خو پخې او د درد دوا کوونکې وې.

که تاسې د فو ننداري وګورئ، نو ارو مرو په هغه کې غوسه، رخه، کرکه، مینه، شوق، ناهیلي او هر څه یو ځای وینئ. خو له دې ټولو د فو هدف یو دی او هغه هماغه د خلکو خندول او د حقیقت بیان دی. فو دا هر څه د وربځو په څېر یوې او بلې خوا ته ټېله کوي څو لیدونکی او لوستونکی حقایقو ته ورسوي. د ده یوه مشهوره ډرامه د یوه انارشیست تصادفي مړینه ده. د همدې ننداري له امله فو د نوبل جایزه وګټله. دا په رېل پټلۍ کې د یوه کارګر د ژوند ترخه پېښه انځوروي. دغه کارګر د ماین اېښودلو په تور نیول کېږي. په زندان کې مړ کېږي. دې سړي له ماین اېښودنې سره هېڅ اړیکه نه لرله، بلکې د پولیسو له لوري په جعلي توګه دا صحنه جوړه شوې وه. په دې کې د روانې په نامه یو کس د ننداري مرکزي کرکټر دی. دا کس له ځانه هر څه جوړولی شي، کله قاضي شي، کله پولیس شي، کله څارنوال وي او دې ته ورته نورې څېرې. له همدې امله څو ځله د پولیسو له لوري د خلکو د تېر ایستلو په تور نیول کېږي، خو هر ځل خوشې کېږي او ابرا اخلي. رواني وایي، ټولټال یوولس ځله نیول شوی، خو هر ځل خوشې شوی دی. د هغه د خوشې کېدو لامل هم دا وي چې هغه ښه تمثیل کولی شي او په همدې خاطر هر ځل قاضي تېر ایستلی شي. هغه دومره په تمثیل کې تکړه وي چې ان ډاکتر هم تېر باسي او د هغه ټول معاینات ښيي چې دی لیونی دی. شپاړس ځله د لیونتوب په نامه بستري کېږي هم. په دې ننداره کې د خندا او غوسې صحنې دي. له یوې خوا د پولیسو ناسمې کړنې او له بلې خوا د مرکزي کرکټر له لوري د دوی تېر ایستل د پېښو منفي او مثبت اړخونه ښيي او پر دواړو لوستونکی او لیدونکی خندوي.

هغه خپل کار په ۱۹۵۲ کال کې په لومړي سر کې په راډیو او ټلوېزیون کې له وړو وړو ټوټو لیکلو پیل کړ. ده د ایټالیا په ملي راډیو- ټلوېزیون کې مونولوګونه لیکل. ده په ۱۹۵۴ کال کې د خپلو ډرامو له مشهورې لوبغاړې فرانکا رامې سره واده وکړ. د رامې کورنۍ له څو لسیزو راهیسې د ایټالیا په شمال کې ننداري تر سره کړې وې او په دې هنر کې یې عمرونه تېر کړي وو. له دې واده وروسته رامې د فو د اثارو یوه کمپنۍ جوړه کړه او هلته یې د ده ځینې اثار خپاره کړل. په دې موده کې د فو په اثارو کې د امریکا پر امپریالېزم، د ایټالیا پر دروغجنو او دوه مخو اتلانو، پر تېر اېستونکو چارواکو، دوه مخو سیاستوالو او ناسمو حکومتي کړنو بحثونه کېدل. د ایټالیا سیاسي او ټولنیز وضعیت یې نقد کاوه او پر مهمو مسایلو یې د خلکو پام ځان ته را اړاوه. د هغه ډېرې ننداري او ډرامې د حکومت له لوري په فشار او زور سانسور کېدې هم، خو بیا به یې ننداري ته وړاندې کولې.

د فو تر ټولو مشهوره پنځونه د یوه انارشیست مړینه وه. دا ننداره یې په ۱۹۷۰ کال کې ننداري ته وړاندې کړه، چې د نړۍ په څلوېښتو هېوادونو کې د تیاتر صحنې ته راغله. له همدې وروسته فو په ایټالیا او ډېرې هېوادونو کې د یوه وتلي لیکوال څېره ځان ته خپله کړه. اثار یې د نړۍ په پنځوسو هېوادونو کې چاپ شوي دي او شاوخوا دېرشو ژبو ته ژباړل شوي دي. فو په خپلو لیکنو کې ډېر وخت د حکومت ضد دریځ خپلاوه او له دې سره ګواښونه هم ورته جوړېدل. په ځلونو په مرګ ګواښل شوی دی. وهل شوی او ډبول شوی دی او ځورول شوی دی. یو ځل یې مېرمن او یو همکار وتښتول شول، وروسته ثابته شوه چې هغه د دولت اړوند پولیس و. په ترکیه او امریکا کې یې پر اثارو بندیزونه لګول شوي وو او ویل کېدل چې د ده اثار خلک د حکومتونو پر ضد پاروي. ده به ویل که یې په اثارو کې دومره قوت وي چې خلک د فاسدو حکومتونو پر ضد وپاروي، نو دا ده ته د نوبل تر جایزې هم مهم خبر دی. د نوبل بنسټ یې هغه مهال د لیکنو او پنځونو په اړه ویلي وو، چې هغه یو پیاوړی لیکوال دی، خلاق دی او په منځنیو پېړیو کې یې پر خلکو له شوو ظلمونو، کړاونو او شکنجو پرده پورته کړې ده. د ادبیاتو دغه پیاوړی لیکوال او طنز لیکونکی د ۲۰۱٦ کال د اکتوبر په ۱۳مه د نوي کلونو په عمر ومړ.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۳.۷۰ |
| Rp. | ٤۸۷ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦.۳ |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# موږ هغسې ژوند کړی څنګه يې چې غواړو؟

ژباړه: حامد احمدزی

ډېرې خلک په دې فکر کې وي، چې ایا تر اوسه يې ښه ژوند کړی دی، یا یې په خپل ژوند کې بدلون راوستی او هغسې هسکه او ټيټه ته لري څنګه يې چې زړه غواړي؟ موږ په دې مقاله کې د همدې پوښتنې د ځوابونو د موندلو هڅه کړې ده.

د ارواپوهنې استاد او د (څه ډول باید ژوند وکړو؟) کتاب لیکوال مارټي نمکو همدې پوښتنو ته ځوابونه ویلي دي، د دې پوښتنو او ځوابونو په لوستو سره به مو دغه اندېښنې تر یوه ځایه راکمې شي.

**د ښه ژوند په اړه پوښتنې او ځوابونه**

**۱- د بې ارزښتۍ احساس**

پوښتنه: ډاکټر نمکو د ځمکې پر سر چې ۸ میلیارده انسانان ژوند کوي، میلیاردونو انسانانو چې تر ما يې مخکې ژوند کړی، یا به په راتلونکې کې ژوند وکړي، داسې فکر کوم چې په ټولنه کې تر نورو خلکو بې ارزښته یم، غواړم له خلکو سره ښه او نیک چلند ولرم، په خپل کار ځای کې بریالی و اوسم، خو بیا هم خپل ځان راته بې ارزښته ښکاري؛ همدا د دې لامل شوی چې تر ډېره ځان غوښتونکی شم؛ ستاسو له نظره کومې لارې چارې دي چې په عملي کېدو سره يې د خوښۍ احساس وکړم او یو بریالی کس و اوسم؟

ځواب: ډېر کم خلک په دې بریالي کېږي چې په دې توره سیاره کې سم او بهتره و اوسي، خو دا ټکي باید درک کړې چې د ډېرې مینې او مهربانۍ په دوام سره به د یو کس ژوند ښه او بهتره کړې، ایا په ژوند کې دې د یو ارزښتناکه شخص په توګه احساس کړی؟ هر کله دې چې په یوه مثبته موضوع کار کاوه، نو د یو ښه کار په تر سره کولو بریالی کېږې. دا فرق نه کوي چې دغه مثبت کار څه شی دی، که هغه حتی د سړک په سر چا له کثافاتو یوه ډکه کڅوړه اچولې وي او ته يې یوه خوندي ځای ته یوسې هم، اغېز به يې پر تا ډېر ښه وي.

**۲- تل خپه اوسېدل**

پوښتنه: ډاکټر نمکي زه په یوه شرکت کې اجرایوي مدیر یم، ښه دنده لرم، په اونۍ کې ٦۰ ساعته کار کوم، یوه متوسطه کورنۍ لرم، د بېلګې په ډول ښه کور، ماشومان په یوه ښه خصوصي ښوونځي کې او یو کوچنی موټر؛ خو بیا هم خوښ نه یم؛ ولې؟

ځواب: ډاډ من یم چې یوازې پیسې نه دي چې خلکو ته خوښي ور په برخه کړي. لږ فکر وکړه.

ایا په ژوند کې د لاندې لارو چارو تر سره کول ډېر لوی مفهوم نه درکوي؟

بل ته د یوه کار د تر سره کولو لارښوونه؛

له خپلې مېرمنې یا ښو ملګرو سره وخت تېرول؛

یا هم د خپل ځان لپاره د ډېر وخت ځانګړي کول؛

زیاتره خلک د نورو لپاره ډېر وخت لري، خو د خپل ځان لپاره يې کم وخت ځانګړی کړی وي. که د خپل ځان لپاره وخت ځانګړی کړې، کېدای شي ښه احساس ولرې.

**۳- ډېر کار کول**

پوښتنه: ټول راته وايي چې زیات کار کوې، په حقیقت کې رښتیا هم ډېر کار کوم، خو له کار کولو خوند اخلم، کله چې کار کوم تر هغه وخته چې په تفریح یا هم لوبو تیروم، زیات د ګټې احساس کوم، ایا دا کار تیروتنه ده؟

ځواب: که چیرې دې له کار خوند اخلې، د نورو په خبرو پسې سر مه خوروه، زیاتره خلک چې له خپل کاره ناراضه دي، فکر کوي چې تاسې به هم همداسې وی او له تاسو غواړي چې کم کار وکړی، یا ځینې خلک ممکن له تاسو سره ډېر وخت تیرول وغواړي، کله چې دوی وګوري چې تاسو سخت کار کولو ته ترجیح ورکوی، دا وخت غوره لاره دا ده چې د کار او ژوند تر منځ انډول ولرې. یانې دا په دې مانا چې هم کار وکړې او هم خپلې کورنۍ او ملګرو ته وخت ورکړې. که داسې ونه شي، یوازې کار کول ژوند سختوي.

**۴- زړښت**

پوښتنه: زما عمر ډېر زیات دی او نور زوړ شوی یم، ژوند مې ډېر تکراري شوی او تل له ځان سره همدا فکر کوم چې یو کار مې باید تر سره کړی وی. مخکې مې داسې فکر کاوه چې دا به غوره وي چې د بیولوژۍ مطالعې ته دوام ورکړم او تولیدي څېړونکی شم، مګر د دې پر ځای ما د خیراتونو لپاره پیسې راټولول پیل کړل؛ خو په دې خبره باور لرم، البته، زه پر دې مسلک باور لرم. زه اوس ۷۲ کلن یم او کله چې زه د تیر په اړه فکر کوم، چې ما ثومره د نورو په مرسته کې برخه اخیستې وه، بیخي حیران شم؛ خو له دې ټولو سره سره مې اوس د ژوند هغه پخوانی مزه نشته. ولې؟

ځواب: د تیرو وختونو تکرار کله کله د دې لامل کیږي، چې خپل ځان ملامت وګڼې او د خپل ځان په اړه بد احساس ولرې، خو د تیر په اړه لا هم ښه فکر وکړه او وګوره چې له تیر وخت سره د ثومره توپیر کړی دی.

**دوې وروستۍ پایلې**

د ډاکټر نمکوو له ځوابونو کولی شو دوو پایلو ته ورسیږو:

لومړی: په ژوند کې ډېر کله حتی له کوچنیو کارونو هم خوند واخلئ، ځکه ستاسو لپاره ارزښت لري.

د نړۍ میلیاردونو انساسانانو ته فکر وکړئ، دوی ډېره کله د ډېرو کوچنیو کارونو په تر سره کولو او له یوه بل سره د کومک په خاطر د ځمکې پر سر ژوند کوي او د خپل ځان لپاره خوشحالي برابروي.

دویمه: څه مو چې په ژوند کې تیر شول په اړه یې فکر مه کوئ، د راتلونکې په اړه مثبت فکر له ځان سره ولرئ او د ښو کارونو د تر سره کولو لپاره ګامونه اوچت کړئ.

د ډاکټر نمکو په وینا، د مشورې ورکول خورا اسانه دي؛ خو په خپله بیا هماغسې ژوند کول بیا ډېر سخت وي. تاسې کوښښ وکړئ چې په هغه ډله کسانو کې راشئ، چې مشوره عملي کوي، نه یوازې دا چې په یوه غوږ يې اوري او په بل یې وباسي.

# یوناما: په تېرو دريو کلونو کې د بشري حقونو او رسنیو ٦٥ کارکوونکي وژل شوي

د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ یا یوناما دفتر په خپل کلني راپور کې ویلي، چې په تېرو دریو کلونو کې په افغانستان کې د بشري حقونو او رسنیو ٦٥ تنه کارکوونکي وژل شوي دي.

په یاد راپور کې راغلي، د تېر کال له سپټمبر را وروسته موده کې چې د افغانستان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې اترې پیل شوې، د بشري حقونو د مدافعینو او خبري رسنیو د مسلکي کارکوونکو د وژل کېدو پېښې زیاتې شوې دي.

د یوناما له خوا په خپاره شوي دغه راپور کې راغلي، د ۲۰۲۰ز کال د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې چې د سولې خبرې پیل شوې، د ۲۰۲۱ز کال د جنورۍ تر۳۱ مې پورې د بشري حقونو ۱۱ مدافعین او د رسنیو کارکوونکي په هدفي بریدونو کې وژل شوي دي.



سرچینې زیاته کړې، د دغو بریدونو د مسوولیت له نه منلو سره یوځای دغه مخ پورته تلونکي بهیر په خلکو کې د وېرې فضا رامنځته کړې ده.

یوناما ویلي، د دغو بریدونو په پایله کې د رسنیو او بشري حقونو فضا تنګه شوې او د رسنیو ډېرو کارکوونکو په خپلو کارونو کې له خود سانسورۍ کار اخیستی، خپلې دندې يې پرېښې او د خپل خوندیتوب په هیله يې خپل کورونه او سیمې خوشې کړې دي.

د سرچینې په خبره: «د یو شمېر مشهورو اشخاصو په ګډون، ډېرو کسانو هېواد پرېښی دی. دغو وژنو د ټولنې په کچه پراخ اغېز لرلی او همدارنګه د سولې هڅو په تړاو يې هیلې کمې کړې دي».


په ورته مهال د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ډېبرا لاینز ویلي : «افغانان یوې غوړېدلې مدني فضا ته اړتیا لري او مستحق يې دي – یوه داسې ټولنه چې خلک په کې له وېرې پرته په ازاد ډول فکر وکولی شي، خپل نظر په ډاګه او ولیکلی شي.»

# ناټو: په افغانستان کې خپل نظامي حضور ته دوام ورکوو

د ناټو د دفاع وزیرانو د کېدونکې غونډې په درشل کې د دغه تړون یو شمېر سرچینو ویلي، چې ناټو به په افغانستان کې خپل حضور ته دوام ورکړي.

د ناټو یو شمېر سرچینو د جرمني ډي پي اې خبري اژانس ته ویلي چې جرمني او نورو متحدانو منلې چې د ناټو د دفاع وزیرانو په دوې ورځنۍ غونډه کې به چې روانه اونۍ د چهارشنبې په ورځ جوړېږي، له افغانستانه د ۱۰ زرو سرتېرو د ایستلو په اړه پرېکړه ونه کړي.

دا د ناټو د غړو او د دغه تړون د شریکانو هغه شمېر سرتېري دي، چې په اوس وخت کې په افغانستان کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې دنده ترسره کوي.



دغو سرچینو ډي پي اې خبرې اژانس ته ویلي، چې ناټو به د دې پر ځای له طالبانو یو ځل بیا وغواړي، چې شخړې کمې کړي او له افغان دولت سره د سولې د ټکنۍ پروسې د ګړندي کولو لپاره خپلې هڅې زیاتې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د تېر کال د فبرورۍ د ۲۹مې د هوکړې له مخې له طالبانو سره ژمنه شوې، چې ټول بهرني ځواکونه به تر مې میاشتې پورې له افغانستانه ووځي، په دې شرط که یاده ډله د سولې خبرو ته کېني او په افغانستان کې شخړې کمې کړي.

خو په دې وروستیو کې لیدل کېږي چې په افغانستان کې شخړې زیاتې شوې او له یوې میاشتې راهیسې په دوحه کې د سولې خبرې په ټپه درېدلې دي.

په ورته مهال د امریکا د ولسمشر جو بایډن اداري ویلي، طالبانو د شوې هوکړې له مخې پر خپلو کړو ژمنو عمل نه‌دی کړی او دا هوکړه له سره ارزوي، خو په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ویلي چې دوی له خپله اړخه په شوې هوکړه کې خپلې ټولې ژمنې عملي کړې او پر دوی لګول شوي تورونه بې‌اساسه دي. نوموړي یو ځل بیا هیله ښرګنده کړې، چې مقابل لوری دې دغه هوکړه بشپړه عملي کړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۶مه | ۶۸۱یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۳ | ۱۹ | ۲٤ | ۲٦ | ۱٦ |
| ۱ | ٤ | ۸ | ۱۱ | ۸ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱٤ | لمر ختل ۰٦:۳۸ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۵۸ | ماښام ۰۵:۳۷ | ماخوستن ۰۷:۰۲

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له ۱۰۹میلیونه او ۴۵۱ زرو کسانو اوښتی ۳

## د عراق پارلمان: امریکا په منځني ختیځ کې د داعش جنګیالیو په لېږد رالېږد کې لاس لري



د عراق پارلمان د امنیت او دفاع کمېسیون غړي بدر الزیادي امریکا تورنه کړې، چې د داعش او نورو ترهګرو په لېږد رالېږد کې لاس لري.
هغه زیاته کړې، داسې شواهد لري چې امریکایي چورلکې او الوتکې له یوه ځای څخه بل ځای ته د داعش ډلې غړي او نور ترهګر لېږدوي. نوموړي له العهد ټلوېزیون سره په مرکه کې څرګنده کړې، داسې کره شواهد او ویډیوګانې لري، چې ښیي امریکایي الوتکې د داعش ډلې غړي د عراق خاورې ته دننه کوي.
نوموړي دغه راز ویلي چې امریکا له عراقي خاورې څخه هم ترهګر ایستلي دي، خو تر اوسه ورته روښانه شوې نه ده چې دا وسله وال یې کوم ځای ته استولي دي. د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم پر امریکا ورته تورونه لګول شوي، چې امریکا په کلکه رد کړي دي.
د یادونې ده چې په عراق او سوریې کې د داعش وسله والې ډلې تر ماتې وروسته ډېری امریکایي او نور بهرني سرتېري بېرته له سیمو وتلي، خو یو شمېر یې لا هم په منځني ختیځ کې حضور لري. که څه هم امریکا وایي چې دغه ځواکونه یې د داعش ډلې د ممکنه ګواښونو د مخنیوي په موخه پرې ایښي، خو د عراق پارلمان او نورو لوړپوړو چارواکو پر امریکا تور لګولی چې د داعش پاتې جنګیالي له یوې سیمې بلې ته لېږدوي.

## لوېدیځ: د میانمار پوځ دې د لاریونوالو پر وړاندې له ځپونکو اقداماتو ډډه وکړي

لوېدیځو هېوادونو د میانمار یا له پوځه غوښتي چې د لاریون کوونکو پر وړاندې دې له ځپونکو اقداماتو ډډه وکړي. دا په داسې حال ده چې په دې وروستیو کې داسې راپورونه خپاره شول، چې د یاد هېواد امنیتي ځواکونه دې ته چمتووالی نیسي، چې هغه مخالفین وځپي چې غواړي د پوځ له خوا د دوې اونۍ مخکې کودتا پر وړاندې اعتراضونه وکړي. پوځ د دغې کودتا په نتیجه کې د ملکي حکومت مشره انګ سان سوچي له واکه لېرې او هغه یې په کور کې نظربنده کړې ده. په هغې اعلامیه کې چې د اروپایي ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو او د کاناډا سفیرانو او ۱۲ اروپایي هېوادونو خپره کړې، له کودتا راهیسې په دغه هېواد کې د سیاسي مشرانو نیونې او د خبریالانو ځورونې غندل شوې دي.
په اعلامیه کې ویل شوي، چې لوېدیځ د ډیموکراسۍ، ازادۍ، سولې او سوکالۍ په چارو کې د میانمار د خلکو د هڅو ملاتړ کوي او زیاته شوې چې نړۍ په دغه هېواد کې وضعیت له نږدې څاري. دغه راز په میانمار کې د امریکا سفارت امریکایي اتباعو ته سپارښتنه کړې، چې د ګرځبندیز پر مهال، د ماښام له اتو د سهار تر څلورو بجو په امن ځای کې ځانونه خوندي کړي.


## یافته‌ها: برخی دیپلوماتان افغان درخارج کشور خلاف قانون به وظایف شان ادامه داده اند



یافته های تازه نشان میدهد که برخی دیپلوماتان افغان در نمایندگی سیاسی افغانستان، خلاف قانون بیش از سه سال به حیث دیپلوماتان به وظایف شان ادامه داده اند.
بر اساس مادۀ ششم قانون کارمندان قونسلی و دیپلوماتیک، کارمندان دیپلوماتیک و قونسلی خارج از کشور پس از انجام سه سال خدمت باالفعل باید از وظیفۀ موجوده به مرکز تبدیل شود و سپری نمودن این مدت در مرکز نیز الزامی است.
در مادۀ سوم این قانون آمده است، درمیان کارمندان دیپلوماتیک سفیر، وزیر مختار، مستشار وزیر مختار، مستشار، سکرتر اول، دوم و سوم شامل می باشند.
اما یافته های آژانس خبری پژواک نشان میدهد که این مادۀ قانون درخصوص مدت کاری ده دیپلومات در نظر گرفته نشده است. بر اساس گزارش روزنامۀ مدنیت، سید طیب جواد در ماه جدی سال ۱۳۹۵ به حیث سفیر افغانستان در انگلستان مقرر شده است.
اما براساس معلومات نشر شده در ویب سایت وزارت امور خارجه، جواد در ماه سنبلۀ سال جاری به حیث سفیر افغانستان درمسکو گماشته شده است و به این اساس مدت کاری شان به حیث سفیر از چهار سال بیشتر می شود.
در عین حال ودیر صافی تحلیلگر سیاسی می گوید، بر اساس قانون هیچ دیپلومات نمیتواند بیش از سه سال در یک سفارت ایفای وظیفه نماید که نه در جای دیگر مقرر شده می تواند؛ اما کسی که این اصول را نمی پذیرد "زورگویی" می کند.


## ژونـــد

### د خپلو فردي ارزښتونو نه پېژندل



موږ په داسې یوه نړۍ کې ژوند کوو، چې له اوو میلیاردو ډېر کسان د دې نړۍ په بېلابېلو برخو کې ژوند کوي. دغه اووه میلیارده کسان هر یو یې د ارزښتونو درلودونکی دی او بریالی هغه دی چې خپل فردي ارزښتونه یې پېژندلي او د خپلې بریا لپاره یې ترې د یوې وسیلې په توګه ګټه اخیستې ده. د ژوند ارزښتونه؛ لکه څنګه یې چې له نامه څرګنده ده، هغه موارد دي چې زموږ په ژوند کې ډېر لوړ اهمیت لري. کېدای شي د یوه کس ارزښتونه د بل کس له ارزښتونو سره توپیر وکړي، په نړۍ کې ډېر داسې شیان شته چې زموږ لپاره لږ ارزښت لري او یا ان بیخي بې ارزښته وي.
د ژوند ارزښت، د پوهې ارزښت، د وخت ارزښت، د پیسو ارزښت، د انسان ارزښت، د دنیا ارزښت، د ملګري ارزښت، د علم او پوهې ارزښت، اخلاقي ارزښتونه، د کار ارزښت، فرهنګي ارزښتونه، کورني ارزښتونه او ډېر نور موارد.

### ژر به د موبایل کامرې په واسطه د زړه ضربان معلوم شي




ګوګل خپل ګوګل فېټ (Google Fit) کې چې د دې کمپنۍ روغتیايي کاریال دی، ځینې نوې ځانګړنې اضافه کړې دي چې په مرسته یې کاروونکي کولی شي د خپل ځیرک موبایل کامرې له لارې خپل د تنفس کچه او د زړه ضربان معلوم کړي.
ګوګل کمپنۍ ویلي چې دغه ځانګړنه به په پیل کې پکسل ځیرکو موبایلونو کې او له هغې وروسته نورو انډرایډ ځیرکو موبایلونو کې کاروونکو ته وړاندې شي. د دې پروسې د تشریح کولو پر مهال ګوګل ووېل، چې کاروونکي به وکولی شي د خپل ځیرک موبایل سېلفي کامرې په کارولو سره خپل د تنفس کچه او د زړه ضربان معلوم کړي.
ګوګل په دې اړه وایي: «د تنفسي کچې معلوملو لپاره سېلفي کامره خپل مخ او د بدن پاسنۍ برخې ته برابره کړئ، په عادي ډول ساه واخلئ او دغه کاریال به ستاسې د تنفس کچه محاسبه کړي.» د زړه ضربان اندازه کولو لپاره کاروونکي باید خپله ګوته پر شاتنۍ کامرې باندې کېږدي او دغه کاریال به د کاروونکو د زړه ضربان محاسبه کړي.

STUDENT'S ACCOUNT
د زده کونکو/زده کریالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارټ او په کلنۍ فیس کې د ماسټر ډېبټ کارټ تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank